پښتون رساله جرمني
دوهمه ګڼه 1984 م کال

# پښتون

بنسټ ایښودونکی : باچاخان

ګڼه (۲) | کال ۱۹۸٤ ع | میاشت اګست

## د افغانستان پېښه

لیکونکی: اباسین

څو ورځی وروسته یعنی د روان کال د اګست د میاشتی په ۲٤ نیټه د ملګرو ملتو د موسسی په منځګړتوب بیا هم د افغانستان د ربړی د حل د پاره د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان او د کابل تش په نامه حکومت د بهرنیو چارو وزیر شاه محمد دوست ترمنځ د سویس د ژنیو په ښار کښی نه مخامخ خبری پیل شی . دا بې ول نه مخامخ خبری د وه ځله د مخه هم شوی وی . خو لکه څنګه چی څرګنده ده هیڅ کومه نتیجه ئی نده ورکړی . دا چی دا ځل خبری به هم بی ګټی او یوازی د وخت تیرول وی هیڅوک پکښی شك نه شی کولی او دا دی علت دا دی چی د افغانستان کړکیچ د شوروی اتحاد د وسلوال برید په نتیجه کښی منځ ته راغلی دی نو د حل لاره ئی هم یوازی د افغان اولس د استازو او شوروی اتحاد د حکومت ترمنځ په مخامخ خبرو کښی لټول کیدای شی . صاحبزاده یعقوب خان خو هغه د پاکستان وزیر دی او شاه محمد دوست دا خو د داسی یوه حکومت وزیر دی چی د شورویانو له خوا په قدرت راوستل شوی دی نو دا څنګه کولی شی چی د افغانستان نمایندګی وکړی .

د پښتنو ټولنیز اولسی ګوند تل ویلی دی او بیا بیا وائی چی د افغانستان د ربړی د حل د هری هڅی لاری د موندلو ټینګ ملاتړ کوی چی د افغانستان خپلواکی پکښی بیرته تامین شی او پدی غمځپلی هیواد کښی مرګ او ژوبله او بی رحمانه بمبارګ

(پاتی د ریم مخ)

## باچاخان زمونږ سیاسی پلار

په تیره ګڼه کښی مونږ د باچا خان زمونږ سیاسی پلار د مقالی پهلومړی برخه کښی د باچا خان پیژند ګلوی او د هغه د مبارزی د یوی برخی په ځینو اړخونو رڼا واچوله ـ د مقالی پدی برخه کښی اوس د باچا خان یو شمیر نوری کارنامی لوستونکو ته وړاندی کوو .

د باچا خان د سیاسی غورځنګ نه مخکښی په پښتونخوا کښی مشاعره رواج نه وه . د هر کلی خان به یو شاعر ساتلی و چی د بل کلی د خان د شاعر سره به ئی مقابله کوله

(پاتی څلورم مخ)

# ملی شاعر ملنګ جان

لیکونکی: ایمل

باغ دی د ټوټیانو نه پریږدی زاغان
دی پښتون مالیار یکی وژنی پری خپل ځان

---

دا د خدای بخلی ملی شاعر ملنګ جان لومړنی شعر دی. ملی شاعر ملنګ جان د ملک عبدالشکور خان ځوی او د ننګرهار د بهسود د چمیار په کلی کښی په ۱۲۹۳ هـ ش کال کښی ځیږیدلی دی. د ده اصلی نوم محمد امین و او کورنی به د مینی له مخی امین جان باله. امین جان د دری کالو ماشوم و چی پلار ئی مړ شو. ملک عبدالشکور خپله پانګه او شتمنی د چاپیریال د ناوړو پیښو له امله د لاسه ورکړی وه نود دوی کورنی د چمیار د کلی څخه د پیرور سیمی ته کډه وکړه او هلته په خواری مزدوری بوخته شوه. څو چی امین جان پنځلس کلن کیده نو په ښکاراونو او خواریو مزدوریو ئی خپل ژوند تیراوه. بیا د کامی د اوربنګ کلی ته ولاړ. د امین جان په ختــه کښی د کوچنیوالی څخه د شعر نابغوی استعداد ښکاره شوی و او پښتنی مورد ننګ غیرت او پښتونولی په ځانګوکښی ځنګولی و نو شعر ئی د شاعری د پیل سره سم د قام او وطن په مینه رنګ و او د شعر په کسر کښی به ئی د امین جان په ځای ملنګ جان استعمالاوه. د شاعری د پیل څخه شپږ میاشتی وروسته د ده کورنی د بهسود د چمیار کلی ته راغله او وروسته له هغه دی د ملنګ جان په نامــه مشهور شو او بیا یو کال د جلال اباد په امنیه کښی او بیــا دوه نیم کاله د کونړونو پــــه لویه اولسوالی (چی اوس سوبه یا ایالت دی) کښی کوتــوالی (سپاهی) وه. د دی څخه وروسته ئی پخپل کلی کښی مزدوری او بزګری (دهقانی) کوله. په دغه موده کښی به ئی ملی ټولنیز او سیاسی شعرونه ویل او د سند د غاړو د لاری به په اولس کښی خپریده او پدی توګه به ده په پښتنو کښی سیاسی بیداری او د پښتنو د ازادی غورځنګ غښتلی کاوه. د دی کار د هغه وخت افغانی حکومت ډیر وار خطا کړ د دی د پاره چی د ملنګ جان داسی شعرونه چی د دوی د سیاست او رضا مخالف وی په اولس کښی خپاره نشی نو ملنګ جان ئی په ۱۳۳۲ هـ ش کال کښی کابل ته راوغوښت او د کابل په راډیو کښی د پښتو د موسیقی د منتظم په توګه مقرر کړ او شپږ سوه افغانی ورته تنخوا وټاکله ده ته او د ده څلورو شاګردانــــو (اول میر، طلا محمد، فقیر او میرزا ګل) ته د قبائلو په ریاست (چی اوس د سرحداتو وزارت دی) کښی ځای ورکړ او هلته به اوسیدل.

ملنګ جان د لیکلو لوست څخه بی برخی پاتی شوی و او یوازی قرانشریف ئی لوستلی و خو په ۱۳۲۸ هـ ش کال کښی ورته یو ښوونکی پیدا شو او په شپږو ورځو کښی دومره لیک زده کړ چی خپل شعرونه ئی پخپله لیکلی او لوستلی شو. وروسته ئی بیا پخپله پاملرنه سره لیک ښه شو او پښتو کتابونه ئی په اسانی سره لوستلی شو. دا چی د ملنګ جان په شعرونو کښی د وطن مینه او د پښتنو د ازادی جذباتو غورځنګونه وهل او دغه جذبه ورځ په ورځ زیاتیده کومه چی د هغه وخت د افغانی واکمنو خوښه نه وه نو په ۱۳۳٤ هـ ش کال کښی د کابل د راډیو څخه لیری کړ. د ۱۳۳٦ هـ ش کال د لړم د میاشتی په لسمه نیټــه هغه وخت چی دی د خپلی کډی سره ننګرهار ته روان و دلتــه بند په کزلیچو کښی د دوی موټر د لاری څخه واوښت او ملنګ جان د خپل دری نیم کلن ځوی د واجان سره یو ځای مړ شو. ویل کیږی چی د موټر په اوښتلو کښی د هغه وخت افغانی واکمنو لاس لرلو. ملنګ جان د چمیار د کلی په هدیره کښی ښخ دی او د شنا ختی په ډبره ئی د ده دا شعر لیکل شوی دی.

---

د محبوب وطن په غیږ کښی ارام پروت یم
لکه طفل چی اوده غیږ کښی د مور وی

# فخر افغان وویل

پښتنو تـه پکاردی چې د بنو د پریـکړې په بنسټ کار او عمل وکړي د بنو د تاریخي پریکړې اصلي متـن دادی

> ## پښتنو د خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه
>
> ### پښتانهٔ نهٔ هندوستان غواړي نهٔ پاکستان؛
>
> د صوبې د جرګې. د اسمبلې د ممبرانو. د خدائی خدمتګارانو افسرانو او د خلمی پښتون د جرګې یو شریک اجلاس په یویشتم د جون ۱۹۴۷ء په مقام د بنوں کښې د خان امیر محمد خان د صدارت د لاندې اوشو. دے اجلاس په اتفاق سره دا فیصله اوکړه. چه په دے ملک کښې د ټولو پښتنو یو آزاد حکومت جوړشی. چه د هغے د آئین بنیاد به په اسلامی اُصول جمهوریت. مساوات او اولسی انصاف باندې ایښودے شی. دا اجلاس هر پښتون ته اپیل کوی. چه د دے اعلیٰ مقصد د حاصلولو د پاره په یو مرکز باندې راغونډ شی. او بے د پښتون نه د بل چا اقتدار ته سر ټیټ نهٔ کړی +
>
> له طرفه د صوبه سرحد د لوئے جرګے نه ،،

# کبیر ستوری له بنده خلاص شو

د پښتنو د ټولنیز اولسی گوند مشر کبیر ستوری چې د ۱۹۸۳ عیسوی کال د جنوری د میاشتې په شپاړسمه نیټه په پښاور کښې د سفر په وخت کښې د پاکستان د پوځي حکومت له خوا بندی شوی و ــ د یوزیات شمیر ملي او بین المللي دلو او ټولنو په غوښتنه سره د بنده څخه خلاص اود ۱۹۸٤ ع کال د اپریل د میاشتې په څوارلسمه نیټه بیرته

د المان اتحادی جمهوریت ته راغلی دی.

په ده باندی د اتور (الزام) لګول شوی و چې د پاکستان د دولت (ستیټ) امن ته ئې خطره پیښه کړې وه.

## د افغانستان "باقي برخه"

پای ته ورسول شي. خوداکار هغه وخت کیدای شي چې تیری کوونکي قدرت پخپل تیری باندی پښیماني وښي او د افغان اولس په نمایندګي د اولس له خوا د ټاکل شوو نمایندګانو سره ټاکل شوو واقعي استازو سره خبرو ته چمتو شي.

د اباید هم وویل شي چې ځني ګوندونه او ډلې چې په بهر کښې مرکزونه او دفترونه لري هریو په جلا جلا توګه د افغانستان د اولس د یوازنی نمایندګی ادعاګانی کوی او په دې ډول د افغاني اولس د ریښتیانیو استازو د ټاکل کیدلو او تبارز په لاره کښې خنډونه اچوی.

د پښتنو ټولنیز اولسی گونـــد د افغانستان د کړکیچ د حل د پاره په یوه داسې بهرنی هیواد کښې چې د افغانستان سره ګډې پولې ونه لري د افغاني لوی جرګې د منځ ته راتلو په هکله د ملګرو ملتو موسسې او د نړۍ ګڼ شمیر هیوادونو ته خپل پلان په ۱۹۸۱ ع کال کښې وړاندې کړی وا ود دغه پلان د عملي کولو د پاره ئې مشخصې طریقې او کړنلارې پیشنهاد کړې وې. ولې چې لویه جرګه چې د اولس له خوا منځ ته راځي او د ټولو سیمو او قامونو له خوا سپـــین زیری او واقعي استازي پکښې برخه لري یوازنی قوت دی چې د افغانستان د ټول ملت نمایندګي کولی شي او د دوی پریکړه به د افغانستان د ټولو وګړو د پاره د منلو او عملي کولو وړ وي. که څه هم زمونږ د لوئې جرګې د پلان سره د ملګرو ملتو د موسسې او ځینو هیوادونو خپل ملاتړ ښودلی دی خو مونږ په دې لاره د زیات ملاتړ او عملي ګامونو هیله لرو.

په تیره بیا د افغانی ګوندونو او ډلو د مشرانو څخه د ازمونږ ارزو ده چې خپلې شخصی او انفرادی ګټې د اولسی ګټو په خاطر شاته واچوی او زمونږ سره د لوئې جرګې د جوړولو په لاره کښې چې د افغانستان د ازادی د پاره یوازنی منل شوی لاره ده ګډ ګامونه واخلي.

**لا به یو کیږو ګنی ورکیږو**

(ولي خان)

# باچاخان .. ( پاتې برخه )

یابه چی چیرته میله وه نو د خانا نو ساتلو شاعرانو به په یو بل پوری توکی ټکالی کولی چی کوم شاعر به پری بر شو نو د بل کلی خان او وګړی به غصه شو او د دی نه به جګړی جوړی شوی چی خونسلو نه به روانی وی . باچا خان د لومړی ځل د پاره د غه د واړه شاعران د خانانو د منګلو څخه خلاص کړل او د مشاعری تخت ته ئی وخیژول او خلك ئی ورته کینول . پدی توګه سړه نه یوازی پښتانه د خطرناکو جګړو څخه خلاص شو شاعر هم د عزت ځای وموند او د پښتو ژبی ادب ته پاملرنه وشوه .

د باچا خان بل کار د بدل په ضد مبا رزه ده . د ه خپلو ملګرو ته وویل چی که چیری څوك د وی سره بد وکړی نو بدل به ئی نه اخلی بلکه اخلا قی ماتی به ورکوی ولی پدی چی بد ل کرکه پیدا کوی او بیا د غه ترنسلونو روان وی . پښتون قوم چی تبا د ی همد غه وجهه ده .

بل کار چی باچا خان ئی په ضد مبارزه کړی هغه دا و چی پښتون قام د کسبګری څخه کرکه کوله کسبګرته به ئی په سپکه سترګه کتل . باچا خان ته معلومه وه چی پرمختللو قامونو ترقی او پرمختګ ځکه کړی د ی چی کسبګروته ئی په د رنه سترګه کتل او د وی د کسبونو څخه ئی ګټه واخیسته چی نتیجه ئی صنعتی اوښتون ( انقلا ب ) و . ترڅوچی پښتون قام کسبګرته پاملرنه ونکړی او کسب ته په د رنه سترګه ونه ګوری نو د وی به همد غسی په اقتصا د ی توګه خوار او برباد وی . د ټولونه وروسته او د ټولو ناروغیو جاله به وی د دی ناروغی د لیری کولو د پاره یو پوخ ګام اینښود ل پکار و . همد غه وجهه وه چی باچا خان پخپله پخپل لا س د خاماتوته جوړه کړه او بیا ئی واغوسته او د بلی خوا د سرپوښو ( خدائی خد متګارانو غور ځنګ ) په د یره پیمانه سره د د بزګرانو ( د هقانانو ) او مزد ورانو څخه جوړ کړ چی په هغه وخت کښی ورته د خانانو نوابانو او ملکانو له خوا په سپکه سترګه کتل کېده .

د بلی خوا پښتنو د سود اګری او تجا رت څخه تښته کوله او هیڅ به د سوداګری او د وکاند اری کاروبا رنه کولو او ویل به ئی د وکاند اری د هند وانو کار د ی . د پښتونخوا په سود اګری او کاروبار باند ی پنجا بیانو بشپړه قبضه کړی وه او ګټه ئی تری اخیسته نو د دی پاره چی د سود اګری او د کاند اری څخه د پښتنو کرکه ورکه شی نو باچا خان پخپله د اتمانځو په کلی کښی د عبد الغفار خان په نوم مند ه ئی جوړ کړ او د وکا ن ئی پرانیست او پخپله ئی تله په لا سر کښی واخیسته او لکه د برښنا په شان په ټول مالت کښی اوازه خپره شوه چی د بهرام خان ځوی د وکاندار شو او خانی ئی پریښود له . د هند وانو پهشان تله کوی . پدی توګه سره باچا خان د د غه غتی ناروغی په ضد ګام واخیست او خپلو ټولو سیاسی ملګرو ته ئی لا رښود نه وکړه چی پخپلو کلیو کښی د وکاند اری او کاروبار پیل کړی ترڅوچی په پښتنو کښی د سود اګری څخه کرکه ورکه او په سود اګری لا س پوری کړی او د پورورتوب څخه خلا ص شی .

کله چی یو زیات شمیر پښتنو په په سود اګری او د وکاند اری پیل وکړ او د ير ژر د د یرو وګړو د ذ هنو نه د غه خبرها او بیځایه مغرورتیا ووتله نو خپله منه ئی ئی د بل سړی په لا س ورکړه

خپرونکی : د پښتنو ټولنیزاولسی ګــو نــد
(Hrsg) : Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)

مسئول ( زمه وار ) : د پښتنو ټولنیزه اولسی تــو لنــه ( د پښتنو د ټولنیز اولسی ګــو نــد غــړی )

verantwortlich i.S.d.P.:
Sozialdemokratische
Organisation der
Paschtunen e.V.(Mitgl.d.
Pashtoons Social Demo-
cratic Party -PSDP-)

د ډاګ پته ( د رك )
PSDP
5000 Köln 1
Postfach 101526
West Germany

# په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مۍ په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاری کړه، چې کله به اووه ورځنۍ، کله لس ورځنۍ، کله میاشتېنۍ او کله به دری میاشتنۍ خپریدله.

په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مۍ په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .

کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاری شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسې وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ایښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.

په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.

د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې

درښښت

نصیر ستوری